**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۲ / محرم الحرام /۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۲۷ / سرطان /۱۴۰۴هـ، ش**

# د فاسقانو او بدعمله خلکو له ملګرتيا څخه ځان ساتنه ضروري ده

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله حمدًا يوافي نعمَه وعطاياه، وأشهد ألا إله إلا الله وحده لا شريك له ولا معبود بحق سواه، وأشهد أن نبينا وسيدنا محمدا عبده ورسوله ونبيه وصَفِيُّه ومجتباه، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، صلاةً دائمةً ما انفلق صبحٌ وأشرق ضياءٌ، أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ)[التوبة:(۱۱۹)

**زما مسلمانانو ورونو او درنو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

محترمو اوريدونکو په تيره جُمعه کې مو د نيکانو او صالحينو سره د ملګرتيا د ګټو او فايدو په اړه معلومات له تاسو سره شريک کړل. زمونږ د نن ورځ د تقرير او بيان موضوع د فاسقانو او بدعمله خلکو له ملګرتيا څخه د ځان ساتنې د ضرورت په اړه ده.

الله جل جلاله فرمايلي دي چې ما دوه ډوله لارې پيدا کړې دي، چې يوه د هدايت لاره ده او بله د ګمراهۍ لاره ده. او انسان ته مې ددې اختيار ورکړی دی چې د هدايت لاره اختياروي او که د ګمراهۍ لاره اختياره وي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ)[البلد:۱۰]ترجمه: او ښوولی دی مونږ ده ته دوه لارې(د هدايت او د ګمراهۍ).

عبدالله بن عباس رضي الله عنه د(النَّجْدَيْنِ ) په تفسير کې فرمايي: الهدي والضلالة. تفسير الطبري (۲۴/ ۴۳۸)

هغه لارې د هدايت او د ګمراهۍ دي.

په يو بل روايت کې دعبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه ددې آيت په معنا کې وايې چې مونږ ورته ښوولې دی خير او شر.

د دواړو صالحينو په ملګرتيا کې هدايت او سمه لار مومي دارنګه انسان د فاسقانو او بدعمله خلکو په ملګرتيا سره ګمراه کيږي او له سمې لارې اوړي او د فاسقانو د ملګرتيا تر تاثير لاندې راځي او بالآخره د فاسقانو په ډله کې شميرل کيږي. معنا ګانو ترمنځ منافات نشته، ځکه چې خير د هدايت يوه برخه ده او شر د ګمراهۍ يوه بر خه ده.

همدارنګه په دنيا کې د ګمراهۍ ډير اسباب موجوددي، چې د هغو اسبابو له جملې څخه د فاسقانو او بدعمله خلکو ملګرتيا ده لکه څرنګه چې انسان د نيکانو او

**درنو ورونو!** د فاسقانو او بدعمله خلکو سره د ناستې، مجلس کولو او د هغوی ملګرتیا څخه ځان ساتنه ضروري ده؛ ځکه چې د فاسقانو او بدعمله خلکو سره په ناسته ولاړه کې ، د هغوی سره په شریک ژوند تیرولو کې د مسلمان عقیدې، دین او اخلاقو ته لوی زیان رسیږي.

عادتاً د فاسقانو او بدعمله خلکو مجلسونه د فسق او فجور، د حرامو او ناجائزو کارونو او خبرو، د ناوړه خوی او خصلت څخه خالي نه وي، چې دا کارونه د وخت په تیردو سره د انسان ته سرایت کوي او د زمانې په تیریدو سره د صالحه او نیک عمله انسان عادات، اعتقادات، اخلاق او چال چلند هم د فاسقانو په شان کیږي.

د فاسقانو او بدعمله خلکو مجلسونه په ناروا قسمونو ، یو بل ته د کنځل کولو، دسپکو او پوچو الفاظ کارولو، په خپلو منځونو کې یو بل ته او دنورو په حق کې د ناوړه القابو استعمالولو، د درواغ ویلو، قماروهلو څخه خالي نه وي او فاسقان او بدعمله خلک د لمونځونو دقضاء کیدلو په اړه بې تفاوته وي، دا ټول کارونه د هغوی د ژوند برخه ده، نو که چیرې څوک له دوی سره ملګرتیا اختیار کړي او ددوی سره ژوند غوره کړي ؛ حتماً ددوی اخلاق به ورته نقل شي او د هغوی په څیر فاسق به شي.

بناءً د ځانونه او اولادونه د فاسقانو او بدعمله خلکو له ملګرتیا څخه وساتئ ځکه چې د فاسقانو او بدعمله خلکو له ملګرتیا څخه ځان ساتنه ډیر ضروري دي؛ ترڅو زمونږ دین او اخلاق خراب نشي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَاراً)[التحريم:٦]

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! وساتئ ځانونه خپل او کور کهول خپل ، (په اطاعت دالله ) له اور څخه.

**توضیح او تشریح:** د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملګرتیا د جهنم د اور سبب دی، ځکه چې هغوی د فسق او ګناه کارونه کوي او څوک چې له هغوی سره ملګرتیا کوي هغوی هم د ګناهونو مرتکب کیږي، چې انجام یې د جهنم اور دی.

امام أبو حفص ابن عادل رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې وایي: وساتئ ځانونه د فسق څخه او د ملګرتیا د هغو کسانو څخه چې اور ورته تیار شوی دی.اللباب في علوم الكتاب (١٩ /٢٠٨)

د آخرت په ورځ به جهنمي ووایې چې زما خو یو ملګری ؤ په دنیا کې چې زه هغه ګمراه کړم:(قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ)[الصافات:٥١]

ترجمه: نو وبه وایې یو ویونکی له دوی نه چې بیشکه زه چې وم ، ؤ ماله یو ملګری(منکر له بعثه) .

**توضیح او تشریح:** په آخرت کې به جهنمي ووایې چې زه خو د بدعمله ملګري او د هغه چا په وجه جهنمي شوم چې هغه په آخرت ایمان نلرلو او د مسخرې په ډول به یې ماته ویل: آیا ته هم د هغو خلکو په جمله کې ئی چې په دې باور لري چې کله مونږ خاورو شو مونږ به بیا را ژوندي کیږو؟

امام طبري رحمه الله وایې چې دا به دده هغه ملګری وي په دنیا کې د انسانانو څخه.تفسير الطبري (٢١ /٤٥)

په عربي کې شعر دی :

عَنِ المْرءِ لا تَسْأَلْ وأَبْصِرْ قَرِينهُ ... إنَّ القَرِينَ بالمُقارنِ مُقْتَدِ

ژباړه: د سړي څخه پوښتنه مه کوه ! بلکې وګوره دده ملګري ته؛ ځکه چې ملګری خپل ملګري پسې اقتداء کوونکی وي.

همدا وجه ده چې الله تعالی د فاسقانو او بدعمله خلکو سره د کیناستلو څخه منع کړي ده. الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا)[النِّسَاءِ: ١٤٠]

ترجمه: او په تحقیق (پخوا) نازل کړی دی (الله ) پرتاسې په کتاب (قرآن) کې دا حکم هرکله چې واوریدل تاسې (په یو مجلس کې) آیتونه د الله چې کفر کولی شي په دې آیتونه، او مسخرې کولی شي په هغو پورې. ؛ نو مه کینئ تاسې له دوی سره (ای مؤمنانو) تر هغه پورې چې مشغول شي دوی په خبره بله کې (که نه) په تحقیق تاسې (هم) په دې وخت کې د هغو په شان شئ(په گناه) کې، بیشکه چې الله یوځای کوونکی دی د منافقانو او د کافرانو په جهنم( دوزخ) کې د ټولو.

**توضیح او تشریح:** علماء کرام وایې چې کله په کوم مجلس کې د الله تعالی په آیاتونو، حکمونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان پورې یا د هغه په سُنتو پورې مسخرې کیږي یا ور باندې اعتراضونه کیږي ؛ نو مسلمان باید د هغې مخه ونیسي او که مخه یې نشي نیولای ؛ نو له دغه مجلس څخه دې پاڅیږي او په داسې مجلسونو کې دې اشتراک نه کوي.

ځینې مفسرین وایې کوم خلک چې داسې فاسقان او بدعمله وي او په دین پورې مسخرې او ټوکې کوي د هغو خلکو سره کیناستل ناروا کار دی برابره خبره ده چې د هغوی په دغه مجلس کې په دین پورې مسخرې کیږي او که نه کیږي؛ ځکه دا فاسقان او بدعمله خلک دي او دداسې خلکو سره ناسته ولاړه حرام ده.

امام طبري رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکلي دي: وفي هذه الآية، الدلالة الواضحة على النهي عن مجالسة أهل الباطل من كل نوع، من المبتدعة والفسَقة، عند خوضهم في باطلهم). تفسير الطبري ت شاكر (٩/ ٣٢١)

ژباړه: په دې آیت کې واضح دلیل دی په ممانعت د هر نوع اهل باطلو سره د کیناستلو څخه ، لکه مبتدعین(هغه کسان چې داهل السنت والجماعت عقیده نلري) او فاسقان کله چې دوی په خپلو باطلو کې بوخت وي.

امام ابو وائل چې جلیل القدر تابعي دی فرمایي: یو سړی په مجلس کې داسې خبره وکړي له درواغو څخه؛ ترڅو خلک ورباندې وخندوي، خو الله تعالی ور باندې په ټولو باندې په قهر شي. دا خبره چا ابراهیم نخعي رحمه الله ته وکړه، نو هغه وویل: ابو وائل رښتیا وایې آیا دالله تعالی په کتاب کې نه دي راغلي:(فلا تقعدوا معهم حتى يخوضوا في حديث غيره). الطبري (٩/ ٣٢١)

ددې آیت په یوه برخه کې الله تعالی فرمایلي دي:( إنكم إذا مثلهم) که چیرې تاسو ددغو خلکو سره په مجلس کې کیناستې ؛ نو تاسو به هم په گناه کې ددوی په شان شئ.

امام ابو اللیث سمرقندي رح وایې: په دې آیت کې دلیل دی ، چې څوک دگناه په مجلس کې کیناست او د منکر څخه یې ممانعت ونکړ، نو داکس هم په دغه گناه کې شریک حسابیږي. که چیرې نور خلک د گناه څخه نه منع کوي ده لره په کاره ده چې ددغه مجلس څخه پاڅیږي؛ ترڅو په دې آیت کې شامل نشئ. بحر العلوم، للسمرقندي(١/ ٣٧٤)

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په وخت کې ځینې خلک د شرابو په څښلو ونیول شول، نو هغوی یې په درو ووهل. چا ورته وویل: په دی مجلس کې یو روژه دار هم موجود دی؟ عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ورته دا آیت تلاوت کړ( فلا تقعدوا معهم حتى يخوضوا في حديث غيره إنكم إذًا مثلُهم). په یو بل روایت کې راځي،چې حضرت عبدالعزیز رحمه الله ورته وفرمایل: (ابدؤوا به) په همده لومړی شروع وکړئ. تفسير الطبري ت شاكر (٩/ ٣٢١)

د حضرت عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه د خبرې مطلب دادی چې د فاسقانو سره ملگرتیا داسې ده لکه چې دا هم د فاسقانو له جملې څخه وي.

امام قرطبي ددې مبارک آیت :(إنكم إذا مثلهم) په تفسیر کې لیکلي دي: یعنې رضا په معصیت ، معصیت دی، د همدې امله دگناه په سزا کې به د گناه کوونکی او پر گناه راضي دواړه نیول کیږي.

په دې آیت کې د گناه د خلکو څخه دځان ساتنې دلیل پروت دی...ځکه چې څوک چې دفاسقانو له مجلس څخه اجتناب نه کوي ، نو په حقیقت کې د هغوی په کار راضي دی او رضا په کفر ، کفر دی؛ ځکه الله تعالی فرمایلي دي: (إنكم إذا مثلهم). تفسير القرطبي (٥/ ٤١٨)

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ )[هود:۱۱۳]
ترجمه: او مه مائلیږئ تاسې (په دوستی سره) په طرف د هغو کسانو چې ظلم یې کړی دی، نو وبه رسیږي تاسې ته اور.
**توضیح او تشریح:** په محبت سره یو شي ته میلان کولو ته رکون ویل کیږي.خو مراد ورڅخه د ظالمانو، مشرکانو او بدعمله خلکو او ګناهګارانو اطاعت، پیروي او د هغوی سره مجلس او ملګرتیا کول دي.
په پورتني آیت کې د ظالمانو څخه مراد مشرکان او یا ګناهګاران مراددي.
امام قرطبی رحمه الله وایې چې صحیح خبره داده چې د (ظلموا) آیت عام دی، مشرکانو او ټولو ګناهګارانو ته شامل دی.
او دا مبارک آیت د اهل کفر او اهل معاصیو خلکو په هجران او پریښودلو باندې دلالت کوي ؛ ځکه چې ددوی سره ملګرتیا یا کفر دی او یا معصیت دی.او ملګرتیا خو وي د محبت د وجی نه. تفسیر القرطبي (۹/ ۱۰۸)
امام ابوحیان الاندلسي رحمه الله وایې: ددې آیت نهی د دغو خلکو نفسي خواهشاتو ته شامله ده او ددوی سره یوځای کیدلو ته هم شامله ده او ددوی سره ملګرتیا او ددوی مجلسونو ته هم شامله ده او ددوی زیارت کولو ته هم شامله ده او ددوی سره مداهنت کولو ته هم شامله ده او ددوی په عملونو رضا ښکاره کولو ته هم شامله ده او ددوی سره ځان مشابه کول او تشابه کولو ته هم شامله ده او د هغوی په شان لباس جوړولو او ځان همشکله ته هم شامله ده.تفسیر البحر المحیط ـ (٥/ ٢٢٤)
امام ابن حبان رحمه الله وایې:(العاقل لا يصاحب الأشرار لأن صحبة صاحب السوء قطعة من النار). روضة العقلاء (ص: ۱۰۱)
ژباړه: عاقل سړی هیڅکله د اشرارو سره ملګرتیا نه کوي؛ ځکه چې د بدعمله سره ملګرتیا د اور ټوټه ده.
دداسې خلکو له مګرتیا څخه ځان ساتنه ضروري ده چې د قیامت په ورځ به یو د بل دښمنان وي.الله تعالی فرمایلي دي:( الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ).[الزخرف: ٦٧]
ترجمه: یاران (دوستان دکفر او معصیت) په دنیا کې په دغه ورځ (قیامت کې) ځینې ددوی له ځینې نورو سره به دښمنان وي؛ مګر (پاتې به وي دوستي ) دمتقیانو.
**توضیح او تشریح:** په قیامت کې، کله چې کافران، مشرکان، فاسقان او بدعمله خلک خپل انجام ویني، نو د متقیانو څخه علاوه به ټول خواره دوستان یو د بل دښمنان شي او ملامتي به یو پر بل ور اچوي او یو له بل څخه بیزاره وي.
امام ابواللیث سمرقندي رحمه الله لیکلي دي: امام مجاهد وایې چې په دنیا کې د الله تعالی په معصیت کې ملګري به د قیامت په ورځ یو د بل دښمنان وي پرته له مؤحدینو څخه. تفسیر بحر العلوم ـ (۳ /۲۵۰)
نو په کار ده چې مونږ له مؤمنانو او متقیانو سره دوستي او ملګرتیا وکړو او د فاسقانو او بدعمله خلکو له دوستی او ملګرتیا څخه ځانونه وساتو، ترڅو په آخرت کې په خپلو کړو پښیمانه نه شو.
څوک چې د فاسقانو او بدعمله خلکو مجلس ته ورځي او په دې سره خپل زړه ته سکون ورکوي او یا ورته دهغوی خبرې اترې خوږې او ښې ښکاري او یا د هغو د کړو وړو تائید کوي او یا نور ورته دعوتوي لکه نن سبا په ټولنیزو رسنیو کې د خپاره شوو معلوماتو تائیدول او داسې نور، په حقیقت کې دا د اسلام او شریعت ضد کار دی.
امام غزالي رحمه الله د ملګرتیا په شرطونو کې وایې: بل شرط د ملګرتیا دادی چې هغه کس به فاسق نه وي چې په خپل فسق باندې همیشه والی کوي. د فاسق په ملګرتیا کې هیڅ ګټه نشته ؛ ځکه څوک چې د الله تعالی څخه ویریږي هغه په کبیره ګناه باندې اصرار نکوي او څوک چې دالله تعالی څخه نه ویریږي د هغه د هلاکت ویره موجوده وي.
د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملګرتیا ګڼ شمیر فردي او اجتماعي زیانونه لري چې ځان ساتنه ورڅخه ضروري ده.
۱-د فاسقانو او بدعمله خلکو ملګرتیا ستا عقیده کمزورې کوي او ستا دین کمزورى کوي؛ ځکه چې د فاسقانو او بدعمله خلکو په مجلسونو کې او خبرو ځینې داسې خبرې وي چې په هغې سره د سړي ایمان کمزورى کیږي.

د حضرت حذیفه رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه به ویل:( الرَّجُلُ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَصِيرُ بِهَا مُنَافِقًا وَإِنِّي لَأَسْمَعُهَا مِنْ أَحَدِكُمْ الْيَوْمَ فِي الْمَجْلِسِ عَشْرَ مَرَّاتٍ). مسند أحمد (٣٨ /٣١٢)
ژباړه: یو سړی به یوه خبره وکړه د نبي علیه السلام په زمانه کې ، نو په هغه خبره به هغه منافق شو او زه هغه خبره ستاسو د یو کس څخه نن ورځ اورم په یو مجلس کې لس ځله؟!

۲-فاسقان او بدعمله اشخاص کوښښ کوي، چې تا هم د ځان په شان کړي او په محرماتو او منکراتو کې دې واقع کړي.
له حضرت علي کرم الله وجهه څخه نقل دي چې هغه به ویل: د فاسق سره وروروليي مه کوه، ځکه فاسق درته خپل کار ښایسته کوي او دا خوښه ګڼي، چې ته هم د هغه په شان شئ او تر ټولو بد خصلت به درته ښایسته ښکاره کوي ، د فاسق شخص ستا خواته راتلل او د فاسق شخص ستا له مجلس څخه وتل ستا لپاره عار او عیب دی... د درواغجن سره ملګرتیا مه کوه، ځکه د هغه سره ژوند تیرول تاته هیڅ ګټه نه رسوي ، ستا خبره بل ته رسوي او د بل خبره تاته رسوي. المجالسة وجواهر العلم، للدينوري (٤ /٢٢٥)

۳-څوک چې د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملګرتیا کوي او د هغوی په مجلسونو کې برخه اخلي، نو د هغو د کارونو او ویناوو زیر اثر راځي او مخکې یې چې د ناوړه او غیر شرعي کارونو او خبرو څخه کرکه او مخالفت درلود، د فاسقانو او بدعمله خلکو د ملګرتیا په وجه د هغو ناوړه او غیر شرعي کارونو سره د مخالفت جذبه یې په زړه کې کمزورې کیږي او بیا لوی لوی ګناهونه ورته واړه ښکاري او لری نه ده چې یوه ورځ به په کې واقع شي .
په حدیث شریف کې راځي: عن النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ - سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « إِنَّ الْحَلاَلَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَاتٌ ». وَأَحْيَانًا يَقُولُ « مُشْتَبِهَةٌ ». « وَسَأَضْرِبُ لَكُمْ فِي ذَلِكَ مَثَلاً إِنَّ اللَّهَ حَمَى حِمًى وَإِنَّ حِمَى اللَّهِ مَا حَرَّمَ وَإِنَّهُ مَنْ يَرْعَ حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكْ أَنْ يُخَالِطَهُ وَإِنَّهُ مَنْ يُخَالِطِ الرِّيبَةَ يُوشِكْ أَنْ يَجْسُرَ ».سنن أبى داود-ن (٣ /٢٤٧)
ژباړه: د نعمان بن بشیر رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: بیشکه حلال هم ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي او د حلالو او حرامو ترمنځ ځینې کارونه دي چې هغه مشکوک دي یعنې حکم یې هرچاته واضح نه دی. او کله به یې داسې ویل: (مشتبهة) شکمن دي. زه تاسې په دې برخه کې تاسې ته یو مثال بیان کړم ، بیشکه الله تعالی ځینې ځایونه ممنوع ګرځولي دي ددا‌خلید د غیر څخه او بیشکه د الله تعالی ممنوع ځایونه هغه ، هغه څه دي چې الله تعالی حرام کړي دي او بیشکه څوک چې څروي(حیوانات) د ممنوعه ځای په خوا کې زر دی چې ورسره به ګډ شي او څوک چې له شک سره شریک شو ، نږدې ده چې د هغې په کولو به جرآت وکړي.
عبدالله بن مسعود رضي الله فرمایي: (إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ وَإِنَّ الْفَاجِرَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلَى أَنْفِهِ) صحيح البخاري ت (١٦ /٤٤)
ژباړه: بیشکه مؤمن خپل ګناهونه ورته داسې ښکاري لکه چې دی د غر لاندې ناست وي او ددې څخه ویریږي چې ور باندې را ونه لویږي او فاسق شخص خپل ګناهونه ورته داسې ښکاري لکه یو مچ چې دده پر پوزه تیر شو.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ:( إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالًا هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنْ الشَّعَرِ إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْمُوبِقَاتِ).صحيح البخاري ت (١٦ /٣٢٣)

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: بیشکه تاسې ځینې داسې کارونه کوئ چې هغه ستاسو په سترګو کې د ویښته څخه هم کمزوری وي، خو بیشکه مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هغه د هلاکوونکو کارونو څخه شمیرلو.

امام غزالي رحمه الله وايي: د فاسق له ملگرتيا څخه ځان وساته! ځکه دفسق او د گناه د کارونو مشاهده په دوامداره توگه ستا د زړه څخه د گناه بدوالی لرې کوي او د هغې کول درته اسانوي؛ د همدې وجې نه زړونو ته د غيبت گناه اسانه وي ځکه چې دوی له غيبت سره نږديوالی پيدا کړی دی.[بداية الهداية للغزالي ]

۴-د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملگرتياارتباطي پُل دی د نورو فاسقانو او بدعمله خلکو سره د وصل کيدو. ځينې فاسقان او بدعمله د ځينو نورو څخه په فسق او بدعملۍ کې زيات وي، نو د کمزوروي فاسقانو او بدعملو سره ملگرتيا د درنو جرمونو او گناهونو فاسقانو سره د ملگرتيا سبب گرځي.لکه څوک چې د نسوارو او چرسو څښونکو سره ناسته ولاړه او ملگرتيا ولري او هغه هم د نسوارو او چرسو په څکلو اخته شي ، يوه ورځ به داسې راشي چې د هيروينو او درنو نشيانو سره به اشنايې پيدا کړي او د هغوی په څير به د درنو نشه يې او مخدره موادو په څښلو روږدې شي.

۵- څوک چې د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملگری شو؛ نو په دې کار سره د نيکانو او صالحو خلکو له ملگرتيا څخه محروم شو.ځکه چې څوک يو ځل د شيطان په جال کې ولويده بيا د هغه جال څخه راوتل او د نيکانو سره ملگرتيا اختيارول او په سمه لاره تلل مشکل او گران کار دی.. الا من وفقه الله تعالی .

٦-د فاسقانو او بدعمله خلکو په ملگرتيا سره انسان په گناهونو او جرمونو کې واقع کيږي ؛ ځکه چې د فاسقانو په مجلس کې او ملگرتيا کې چغل خوري او نيميت وي،غيبت په کې وي، دروغ ويل په کې وي، لعنت ويل په کې وي، زناکاري په کې وي ؛ نو څوک چې د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملگرتيا کوي يوه ورځ به دغو کارونو ته مخه کړي او د فاسقانو برخه به وگرځي چې دا کار په تجربې او مشاهدې سره ثابت شوی دی.

۷-د فاسقانو او بدعمله خلکوسره ملگرتيا سره مسلمان د لمانځه او نورو واجباتو د انجامولو څخه محروميږي.

۸-د فاسقانو او بدعمله خلکو په ملگرتيا سره د مسلمان وخت ضائع کيږي ، ځکه چې د فاسقانو او بدعمله خلکو مجلسونه بې فائدې وي او شپه او ورځ په عبثو او بې فايدې کارونو بوخت وي.

۹-څوک چې د فاسقانو او بدعمله خلکو سره ملگرتيا لري او د هغوی سره ناسته ولاړه کوي؛ د نورو خلکو په سترگو کې فاسق ښکاري اگر که هغه صالح انسان وي . دې همدې وجې نه لقمان حکيم رحمه الله خپل زوی ته وويل:( يَا بُنَيَّ مَنْ يَصْحَبْ صَاحِبَ السُّوءِ لَمْ يَسْلَمْ، وَمَنْ يَدْخُلْ مَدْخَلَ السُّوءِ يُتَّهَمْ).تنبيه الغافلين،للسمرقندي (ص: ٢١٦)

ژباړه: ای زما زويه! څوک چې د بدعملو سره ملگرتيا کوي هيڅکله به سالم پاتې نشي او څوک چې بدعمله ځای ته ننوځي تهمت به وربانديې وويل شي.

**وفقني الله واياكم لما يحبه ويرضاه**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**